بانک The Bank

میاشتنۍ | Monthly | ماهنامه

۲۱۴ گڼه - ۱۴۴۶ ذوالقعدة الحرام - ۱۴۰۴ غویی




# افغانستان؛

## د سیمه ییزو او نړی‌والو پانګوالو لپاره ستراتیژیک فرصت


Afpay
سـرعت و شـفافیت
بصورت همزمان
www.dab.gov.af




د امتیاز خاوند: د افغانستان بانک

کتنپلاوی: فدا محمد فیضان، احمد جواد سداد او محمد ادریس رونق

سرلیکوال: شفیق الله بارز



- د افغانستان بانک د ټولو رئیس د صرافانو ټولنې له استازو سره ولیدل ۱
- حریق بانکنوت‌های مندرس در زون های شمال و غرب کشور ۲
- بلخ او کندز ته سفرونه، د سیمه‌ییزو اقتصادونو د پیاوړتیا لپاره نوې هڅې ۳
- افغانستان؛ د سیمه ییزو او نړۍ‌والو پانګوالو لپاره ستراتیژیک فرصت ۵
- تجارت متنوع‌تر، راهی به‌سوی تاب‌آوری در خاورمیانه و آسیای مرکزی ۹
- اسعاري او سوداګریز جنګونه ۱۲
- اقتصادي خبرونه ۱۷
- تورم در افغانستان و نقش د افغانستان بانک در ثبات قیمت‌ها ۱۹
- پرمختګ؛ یعنې دا چې څنګه سیالي، وده وکړو او خوندي پاتې شو ۲۱
- آیا بریښنایي پولي واحدونه له کوچنیو کاروبارونو سره مرسته کولای شي؟ ۲۵
- Strengthening Regional Economies: A Strategic Approach by... ۳۱



مسئول مدیر: انور الله حیات

خبریالان: سید خالد خالقیار او زاهد الله احمدي

ډیزاین: خالد احمد فیضي

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

د وېش مسئول: نصرت الله احمدزی

د چاپ شمېر: ۱۲۰۰ ټوکه

کال: اوولسم

پته: د افغانستان بانک

د ثبت ګڼه: ۴۵۸



ټیلیفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

برېښنالیک: magazine@dab.gov.af

وېب پاڼه: www.dab.gov.af



۲۱۴



د مجلې د مقالو او انځورونو کارول د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.

استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.

# د افغانستان بانک د ټولو رئیس د صرافانو ټولنې له استازو سره ولیدل

د ۱۴۴۶ د شوال المکرم ۲۵ مه – د افغانستان بانک د ټولو رئیس ښاغلي نوراحمد آغا په خپل کاري دفتر کې د صرافانو ټولنې له رئیس ښاغلي بهرام خان خدران او مل پلاوي سره ولیدل.

د غونډې په پیل کې د صرافانو او پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو ستونزې واوریدل شوې. تر هغې وروسته د افغانستان بانک د ټولو رئیس ښاغلي نور احمد آغا وویل چې د افغانستان بانک ژمن دی، ترڅو په غیربانکي سکتور کې د صرافانو او پولي خدمتونو وړاندې کوونکو ستونزو ته د افغانستان بانک د پالیسیو او اصولو په چوکاټ کې رسیدنه وکړي. همداراز ښاغلي نور احمد آغا هېوادوالو ته د معیاري او خوندي خدماتو پر وړاندې کولو ټینګار وکړ او له صرافانو څخه یې وغوښتل چې د افغانستان بانک د اصولو او لارښوونو په رڼا کې او د ملي ګټو په پام کې نیولو سره خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړي.

ښاغلي نور احمد آغا زیاته کړه چې د افغانستان بانک د افغانۍ د ثبات ساتلو او په هېواد کې د پیسو وینځلو او د اسعارو د قاچاق د مخنیوي په برخه کې ګټورې هلې ځلې کړې دي او د صرافانو او پولي خدمتونو وړاندې کوونکو د فعالیتونو د میکانیزه کولو په موخه یې کاري چوکاټ رامنځته کړی دی چې تر دې دمه په مؤثره توګه پلی شوی دی. ښاغلي نور احمد آغا وویل چې د افغانستان بانک ژمن دی ترڅو په دې برخه کې خپلې هڅې جاري وساتي.

د یادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د صرافانو د ستونزو د اوریدو ترڅنګ د اسعارو په مقابل کې د افغانۍ د ثبات او اړوندو مسائلو په اړه خبرې اترې هم وشوې او د صرافانو ټولنې استازو هم له خپله اړخه د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ او د افغانستان بانک د لارښوونو او پالیسیو د پلي کولو په برخه کې یې د افغانستان بانک سره د همکارۍ ژمنه وکړه.



# حریق بانکنوت‌های مندرس در زون های شمال و غرب کشور

۲ و ۱۶ ذوالقعده ۱۴۴۶ هـ ق – د افغانستان بانک به‌منظور تسهیل در معاملات پولی و خارج ساختن بانکنوت‌های مندرس از گردش، اقدام به حریق بانکنوت های مندرس در زون‌های شمال و غرب کشور نمود.

در زون شمال (ولایت بلخ)، مبلغ ۸۴۳ میلیون و ۴۳۰ هزار افغانی و در زون غرب (ولایت هرات) به ارزش ۶۶۰ میلیون و ۷۰۰ هزار افغانی بانکنوت‌های مندرس که شامل انواعیه های ۱۰، ۲۰، ۵۰، ۱۰۰، ۵۰۰ و ۱۰۰۰ افغانی بود، بعد از شمارش دقیق و نظارت هیأت تعیین‌شده، از بین برده شد.

محترم ملا محمد آخند، معاون دوم د افغانستان بانک که روند حریق این بانکنوت‌ها را در هر دو زون نظارت می‌کرد، گفت که این بانک تلاش می‌ورزد تا به‌صورت منظم بانکنوت های مندرس را از بازار جمع آوری نموده و به‌جای آن بانکنوت‌های نو و سالم را به گردش بیاورد، تا شهروندان عزیز کشور از سهولت های لازم در این زمینه برخوردار شوند.



وی از مردم خواست تا در حفظ و مراقبت بانکنوت‌ها توجه جدی داشته باشند تا از مندرس شدن زودهنگام و هزینه های اضافی چاپ مجدد جلوگیری صورت گیرد. وی تأکید کرد که مردم باید از استفاده بانکنوت‌ها با دستان تر یا چرب خودداری کنند، زیرا این امر باعث زود مندرس شدن بانکنوت‌ها و خارج شدن آن از گردش بازار می گردد. قابل ذکر است که روند جمع آوری و خارج‌سازی بانکنوت های مندرس از گردش در تمامی زون‌های کشور ادامه دارد. شهروندانی که بانکنوت‌های مندرس در اختیار دارند، می توانند به نمایندگی‌های د افغانستان بانک یا بانک‌های تجارتی مراجعه نموده و بانکنوت‌های خویش را با بانکنوت های سالم و نو تبدیل نمایند.





# بلخ او کندز ته سفرونه، د سیمه‌ییزو اقتصادونو د پیاوړتیا لپاره نوې هڅې

۱۴۴۶ د شوال المکرم ۲۲ – ۲۸ مه د افغانستان بانک د لومړي مرستیال بناغلي صدیق الله خالد په مشرۍ یو پلاوي د شمال زون (بلخ) او شمال ختیځ زون (کندز) ولایتونو ته سفرونه ترسره کړل. دا سفرونه مالي خدمتونو ته د آسانه لاسرسي، اسلامي بانکوالۍ د پیاوړتیا، د محلي اقتصادونو د ودې او د اداینیزو سیستمونو د معرفي کولو په موخه ترسره شول.

د دې سفر لومړۍ غونډه د افغانستان بانک په شمال زون بلخ ولایت کې جوړه شوه، چې په کې د بلخ ولایت د مرستیال والي په شمول ولایتي چارواکو، علماوو، د خصوصي سکتور استازو او د مالي بنسټونو مسئولینو ګډون درلود.

په یاده غونډه کې د افغانستان بانک لومړي مرستیال بناغلي صدیق الله خالد د افغانۍ د ارزښت ساتنې، مالي خدمتونـو ته د آسانه لاسرسي، د ځايي اقتصادونو د پیاوړتیا، د اداتیو د برېښنايي کولو او یو شمېر نورو اړوندو موضوعاتو په اړه خبرې وکړې.

د افغانستان بانک لومړي مرستیال بناغلي صدیق الله خالد د خپلو خبرو په لړ کې له ټولو امارتي ادارو او اړوندو بنسټونو وغوښتل چې له ملي پروسو سره په ملتیا د هېواد له اقتصادي رغښت څخه ملاتړ وکړي او په اقتصادي رغونه کې خپل مثبت رول ولوبوي.



په دې غونډه کې د بلخ ولایت د والي مرستیال ښاغلي مولوي نورالهادي ابو ادریس د هېواد په شمال زون کې د افغانستان بانک له لوري د دې غونډې له جوړولو مننه وکړه او ژمنه یې وکړه چې د هېواد د اقتصادي رغښت او پرمختګ لپاره د بلخ ولایتي اداره د هر ډول همکارۍ لپاره چمتو ده او په دې برخه کې به له هېڅ ډول هلو ځلو دریغ ونکړي.

د یادونې وړ ده چې په بلخ کې د غونډې ګډونوالو، د خصوصي سکتور فعالانو، دیني عالمانو او د سیمه ییزو ادارو استازو د افغانستان بانک د اقداماتو هرکلی وکړ، او له مرکزي بانک څخه یې د لا ډېرو مالي او بانکي آسانتیاوو د رامنځته کولو غوښتنه وکړه.

د همدې لړۍ په دوام، د افغانستان بانک پلاوي کندز ولایت ته سفر وکړ. په دې ولایت کې هم ولسي غونډه جوړه شوه، چې پکې د دې ولایت مرستیال والي مولوي حبیب الرحمن صهیب، ولایتي چارواکو، قومي مشرانو، سوداګرو، د بانکونو استازو او د عامو خلکو استازو ګډون کړی وو.

غونډه د کندز د والي مرستیال مولوي حبیب الرحمن صهیب پرانیستله. نوموړي په کندز ولایت کې د دې ډول غونډو له جوړېدو هر کلي وکړ او د خپلو خبرو په ترڅ کې یې وویل چې اقتصادي ثبات او د خلکو پرمختګ هغه مهال امکان لري، چې مالي سواد، عامه ګډون، او د مالي خدمتونو پراخ لاسرسی تضمین شي.

وروسته، د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي صدیق الله خالد د افغانستان بانک د لیدلوري تشریح وکړه او ویې ویل: موږ اسلامي بانکداري یوازې د شعار په توګه نه، بلکې د عمل په میدان کې تعقیبوو، د هېواد اقتصادي ثبات ته ژمن یو او دا ژمنتیا د ملت، دولت او خصوصي سکتور ګډو هڅو ته اړتیا لري. ښاغلي خالد زیاته کړه، د بانکي سکتور د پیاوړتیا په برخه کې د پام وړ ګامونه پورته شوي او هڅه مو دا ده چې د اسلامي بانکوالۍ برخې ته لا ډېره پراختیا ورکړو. نوموړي وویل، د اسلامي بانکوالۍ د پیاوړتیا په موخه د سوداګریزو بانکونو هغه شاوخوا ۵ ملیارده افغانۍ چې د تېرې ادارې له لوري د بیمې په ډول د شلو کلونو په اوږدو کې اخیستل شوې وې، بېرته سوداګریزو بانکونو ته مسترد شوې، ځکه له اسلامي شریعت سره یې مطابقت نه درلود.

باید وویل شي چې په یادو ولایتونو کې د افغانستان بانک د بېلابېلو آمریتونو آمرینو او د آمریتونو مرستیالانو ګډونوالو ته د بانکي سکتور، برېښنايي بانکوالۍ، اداینېزو سیستمونو، مالي خدمتونو د پراختیا او وړو مالي تمویلاتو اړوند د پریزنټېشنونو له لارې تفصیلي معلومات وړاندې کړل.

په بلخ او کندز ولایتونو کې د غونډو جمعبندي د افغانستان بانک د ریاست د دفتر لوی آمر، ښاغلي فدا محمد فیضان وکړه، نوموړي وویل: موږ ژمن یو چې یو اسلامي، شفاف او عصري بانکي نظام رامنځته کړو، خو دا هدف یوازې د افغانستان بانک له خوا نه، بلکې د ملت، دولت او خصوصي سکتور د ګډو هڅو له لارې ترلاسه کېدای شي. نوموړي د بانکي سکتور، برېښنايي بانکوالۍ، اداینېزو سیستمونو، مالي خدمتونو د پراختیا او وړو مالي تمویلاتو برخې مهمې یادې کړې او د دې برخو د پراختیا په هکله یې په ګډو هڅو ټینګار وکړ. د یادونې وړ ده چې د دغو غونډو تر څنګ، د سوداګریزو بانکونو، وړو مالي مؤسساتو، او برېښنايي پیسو د خدمتونو نندارتونونه هم جوړ شوي وو، چې د غونډې ګډونوالو او عامو خلکو ترې لیدنه وکړه.



# افغانستان؛

## د سیمه ییزو او نړۍ‌والو پانګوالو لپاره ستراتیژیک فرصت

سره له اوږدو جګړو او اقتصادي ستونزو، افغانستان لا هم د پانګونې لپاره یو نه کارېدلی خو ارزښتناک فرصت ګڼل کېږي. دا هېواد، چې د آسیا په زړه کې پروت دی، د خپل جغرافیایي موقعیت، طبیعي زېرمو، ځوان کاري ځواک او د مالي نظام اصلاحاتو له امله، د ودې او پانګونې پراخ امکانات لري.

په داسې حال کې چې د نړۍ هېوادونه له لوړو لګښتونو سره مخ دي، افغانستان یو رقابتي او وده کوونکی بازار دی. له کرنې، کانونو، مخابراتو او انرژۍ څخه نیولې تر تولید او ټرانسپورټ پورې، دلته د پانګوالو لپاره پراخه زمینه موجوده ده.

د افغانستان بانک او نورو ادارو له خوا رامنځته شوي اصلاحات، د مالي ثبات ټینګښت، روڼتیا، د اسلامي بانکوالۍ پراختیا او د پانګوالو لپاره د آسانتیاوو رامنځته کول، دا ټول ښيي چې هېواد له مرستو اخیستونکي اقتصاد څخه د ودې، تولید او صادراتو پر لور روان دی.

په دې مقاله کې هڅه شوې ده ترڅو د مالي ثبات، پانګوالو ته د آسانتیاوو، اسلامي بانکوالۍ او د باور جوړونې اړوند مهم ټکي روښانه شي او وښيي چې ولې افغانستان د پانګونې لپاره یو پرانیستی فرصت دی.

## ۱. د مالي ثبات نیټې

### ۱.۱ د افغانۍ د ارزښت ثبات

سره له دې چې په تېرو څو کلونو کې افغانستان له سختو اقتصادي ستونزو او نړۍوالو بندیزونو سره مخ وو، خو بیا هم د افغانۍ ارزښت نسبي ثبات ساتل شوی. دا ښیي چې د افغانستان بانک توانېدلی خپلې پولي چارې په ښه ډول پر مخ بوسي. د افغانۍ ثبات دا معنا لري چې د افغانۍ د ارزښت له ناڅاپي لوړېدو یا ټیټېدو کېدو سره نه‌دی مخ شوی. هغه څه دي چې پانګوالو ته باور ورکوي ترڅو خپلې مالي چارې له مخکې تنظیم کړي او د خطر وېره حس نه کړي.

د افغانستان بانک هڅه کړې چې د اسعارو بازار کنټرول کړي، د افغانۍ تقاضا او عرضه تنظیم کړي او اقتصادي وضعیت په ښه ډول سره مدیریت کړي، دا ډول اقدامات د پانګوالو باور زیاتوي او په پایله کې هغوی دې هېواد ته د پانګې د راوړلو او د کاروبارونو د پیل لپاره زړه ښه کوي.

### ۱.۲ د انفلاسیون کنټرول

د ټوکو د بیو لوړوالی، چې د انفلاسیون له امله رامنځته کېږي، د پانګونې لپاره یو له سترو خنډونو څخه ګڼل کېږي.کله چې بیې بې‌ثاته وي، پانګوال نشي کولای د اوږدمهاله پلانونو او پانګونو لپاره دقیقه محاسبه وکړي، څکه په داسې حالاتو کې د ګټې او تاوان اټکل ستونزمن کېږي، خو د افغانستان بانک، د پولي سیاستونو د تطبیق له لارې، هڅه کړې چې د انفلاسیون کچه په مطلوب حد کې وساتي او د توکو په بیو کې نسبي ثبات رامنځته کړي. د بیو دا ثبات پانګوالو ته ډاډ ورکوي چې بازار بې نظمه نه دی او خوندي مالي چاپیریال رامنځته شوی دی. سربېره پر دې، د پیسو د عرضې تنظیم، د بازارونو څارنه او د کورنیو تولیداتو د ودې هڅونه هغه عوامل دي چې مرسته کوي، تر څو د بیو لوړوالی تر یوې مطلوبې کچې محدود پاتې شي.که دا ټګلاره په دوامداره توګه تعقیب شي، نو نه یوازې دا چې پانګوال به خاتونه خوندي احساس کړي، بلکې د هېواد اقتصادي وده به هم باثباته شي.

## ۲. د بانکي شفافیت رول

### ۲.۱ د بانکي نظام اصلاحات

د افغانستان بانک د بانکي نظام د اصلاح، پراختیا او عصري کولو لپاره مهم ګامونه اخیستي، چې له مخې یې نوي مقررات، څارنیز میکانیزمونه او نړۍوال معیارونه رامنځته شوي دي.

بانکي خدمات له ښارونو بهر، لرې پرتو سیمو ته هم غځول شوي، او هلته نمایندګۍ پرانیستل شوې دي چې د حساب پرانیستلو ترڅنګ د مالي سواد، اسلامي بانکوالۍ او شفافو معاملاتو په برخه کې عامه پوهاوی زیاتوي. دغه اقدامات د مالي شمولیت پراخولو، اقتصادي ثبات او د شفافو بانکي خدمتونو د تضمین لپاره مهم بلل کېږي.

### ۲.۲ د اسلامي بانکوالۍ پراختیا

د افغانستان بانک د اسلامي بانکوالۍ د پیاوړتیا لپاره هدفمند ګامونه اخیستي، څو یو داسې مالي نظام رامنځته کړي چې د اسلامي اصولو سره سم وي. دا سیستم، پر سود ولاړ نه دی، شفاف، حساب ورکوونکی او د خطر شریکونې اصول پلي کوي.

د دې برخې د ودې لپاره ځانګړي مقررات جوړ شوي او د اسلامي مالي محصولاتو (مضاربې، مشارکې، اجارې، مرابحې) په اړه عامه پوهاوی زیات شوی، ترڅو خلک په ډاډ سره له دې خدمتونو ګټه واخلي.

اسلامي بانکوالي د هغو پانګوالو لپاره یو مناسب چاپېریال برابروي چې غواړي افغانستان کې پانګونه وکړي. دا هڅې نه یوازې د خلکو باور لوړوي، بلکې د داخلي او نړۍوالو پانګوالو

لپاره نوي فرصتونه برابروي او د اقتصاد تنوع او ودې ته لاره هواروي.

### ۲.۳ د حساب ورکونې پیاوړتیا

د پولي او مالي ادارو روڼتیا، د رسنیو پر وړاندې پرانیستې دروازې او د عامه پوهاوي دوامداره پروګرامونه، د افغانستان مالي سیستم روڼ او د ولس تر څارنې لاندې ساتي. دا روڼ چلند د خلکو باور لوړوي او پانګوالو ته د خوندیتوب احساس ورکوي.

رسنۍ د ادارو فعالیتونه څاري، راپورونه خپروي او له دې لارې حساب ورکونه یقیني کیږي.

عامه پوهاوي د مالي سواد کچه لوړه کړې، خلکو ته یې پر مالي خدماتو باور ورکړی او هغوی یې له خپلو حقونو سره آشنا کړي دي.

د شفافیت، معلوماتو ته لاسرسي او حساب ورکونې دا ګډه فضا، پانګوالو ته ډاډ ورکوي چې پانګونې به خوندي وي او قانوني ملاتړ به ولري، له همدې امله افغانستان د پانګونې لپاره یو روڼ او د باور وړ بازار وړاندې کوي.

## ۳ .ولې افغانستان کې پانګونه؟

افغانستان بډایه طبیعي زېرمې لري، چې پکې لیتیم، مس، طلا، طبیعي ګاز، نفت، کرومایټ او نور ارزښتناک منرالونه شامل دي . د نړۍوالو راپورونو له مخې، دا زېرمې، په ځانګړې توګه لیتیم، د نړۍوال بازار د لوړې تقاضا له امله خورا مهم فرصتونه برابروي. سره له دې چې ډېری دا زېرمې لا هم استخراج شوې نه دي، خو د ثبات، مالي شفافیت او پانګوالو د خوندیتوب لپاره روانو هڅو سره، دا شتمنۍ د اقتصادي ودې او ځانبسیاینې لپاره کلیدي رول لوبولای شي.

که دا زېرمې په شفافه او حساب‌ورکوونکې بڼه استخراج شي، افغانستان کولای شي نه یوازې خپلې اقتصادي ستونزې حل کړي، بلکې د سیمې د انرژۍ او کانونو عرضه کوونکی مهم هېواد هم شي.

### ۳.۱ ځوان او چمتو کاري ځواک

د افغانستان د نفوس ډېره برخه ځوانان دي، چې دا نه یوازې د هېواد دیموګرافیک قوت، بلکې د اقتصادي ودې لپاره مهم فرصت ګڼل کیږي .که مناسبې زده کړې، مهارتونه او کاري زمینه ورته برابره شي، دا ځواک کولای شي چې د صنعت، کرنې، خدمتونو، ټکنالوژۍ او صادراتو په برخو کې اغېزناک رول ولوبوي.

دوی یو ارزانه، خو با استعداده کاري ځواک دي، چې د ټکنالوژۍ سره آشنایي، چټک تطابق، نوښت، او کار ته ژمنتیا یې له مهمو ځانګړتیاوو څخه دي. د مهارتونو پراخولو او خصوصي سکتور سره د همغږۍ له لارې، دا ځوان کولای شي افغانستان په یوه رقابتي اقتصادي لوبغاړي بدل کړي.

### ۳.۲ ستراتیژیک موقعیت

افغانستان د منځنۍ آسیا، جنوبي آسیا او منځني ختیځ ترمنځ په یوه مهم ستراتیژیک موقعیت کې پروت دی، چې دا هېواد یې د سوداګرۍ، ترانزیټ او سیمه‌ییز اتصال لپاره پر یوه حیاتي نقطې بدل کړی دی. دا جغرافیایي برلاسي کولای شي د منځنۍ آسیا هېوادونه له جنوبي آسیا سره ونښلوي، او چین، ایران او نورو سیمه‌ییزو بازارونو ته لنډه او مؤثره لار برابره کړي.

### ۳.۳ د اصلاحاتو دوام

د مالیې جواز اخیستنې سیستمونو او د بهرنیو پانګوالو د خوندیتوب په برخو کې یو لړ مهم اصلاحات رامنځته شوي، چې د پانګونې فضا یې لا مناسبه کړې ده. د مالیې راټولولو سیستم ساده شوی، د جواز اخیستو پروسه آسانه شوې، تادیاتي

سیستمونه سره وصل شوي او د وخت ضایع کېدو مخنیوی شوی دی.

همداراز، د پانګوالو لپاره د قانوني خوندیتوب په برخه کې مشخص ګامونه پورته شوي، لکه د پانګوالو د شکایتونو د اورېدلو خانګړي میکانیزمونه، د قراردادي شخړو د حل آسانه لارې، او د ملکیت د حقونو واضح تعریف دا ټول بدلونونه پانګوالو ته دا پیغام ورکوي چې دوی کولای شي په یو باثباته، روڼ او قانون‌محوره چاپېریال کې خپل کاروبار پیل یا پراخ کړي.

**پایله**

سره له ټولو ننګونو، افغانستان د پانګونې یو نه کارېدلی خو ارزښتناک فرصت برابروي. د پولي ثبات، د بانکي نظام اصلاحاتو، د اسلامي بانکوالۍ پراختیا، او د شفافیت او حساب‌ورکونې میکانیزمونو پیاوړتیا، هغه بنسټونه دي چې پر مټ یې کولای شو یو د باور وړ مالي چاپېریال برابر کړو.

افغانستان نه یوازې بډایه منابع، بلکې ځوان او کار ته ژمن نسل لري. د اصلاحاتو دوام، د قانون حاکمیت او د ستراتیژیک موقعیت ځخه ګټه اخیستل، دا ټول هغه فرصتونه دي چې باید نړیوال او کورني پانګوال یې درک کړي.

که پانګوال، خصوصاً اسلامي مالي مؤسسې، د افغانستان نوي فرصتونه وڅېړي، له اصلاحاتو سره همکار شي یوځای د یو راتلونکي، باثباته او پرخپلواکه اقتصاد ولاړ افغانستان د جوړېدو لپاره برخه وکړي.

**لیکوال: حسیب الله نوري**

**د افغانستان بانک ویاند**


مرجعونه:

1. د افغانستان بانک رسمي راپورونه www.dab.gov.af:
2. د نړیوال بانک (World Bank) راپورونه www.worldbank.org/afghanistan:
3. د نړیوال وجهي صندوق (IMF) تحلیلونه www.imf.org:
4. د آسیا پراختیایي بانک (ADB): www.adb.org
5. د اقتصادي او سوداګرۍ وزارت معلومات په داخلي پالیسیو کې: www.moec.gov.af
6. تحقیقي مقالې او اقتصادپوهان:
7. د افغانستان بانکي سکتور ته کتنه، 2022 په افغانستان کې د پانګونې فرصتونه او ننګونې، کابل پوهنتون ژورنال، 2021
8. UNCTAD Investment Reports – Afghanistan Chapter



# تجارت متنوع‌تر، راهی به‌سوی تاب‌آوری در خاورمیانه و آسیای مرکزی

کاهش موانع تجارتی، تسهیل محدودیت‌های مقرراتی و بهبود زیرساخت‌ها می‌تواند چالش‌ها را کاهش داده و به کشورهای منطقه در استفاده از فرصت‌های جدید کمک کند.

همه‌گیری کوید-۱۹، تحولات ژئو اقتصادی و جنگ روسیه در اوکراین، معادلات تجارت جهانی را دگرگون کرده‌اند. با وجود چالش‌های ناشی از این تغییرات، مسیرهای تجارتی جدید، به‌ویژه برای قفقاز و آسیای مرکزی، فرصت های تازه ای به همراه داشته‌اند.

از زمان آغاز جنگ، اقتصادهای منطقه همچنان مقاوم باقی مانده و فعالیت‌های تجارتی در بسیاری از کشورها افزایش یافته است که بخشی از آن به دلیل استفاده از مسیرهای تجارتی بدیل بوده است. در سال ۲۰۲۲، سهم تجارت به جز نفت و گاز کشورهای ارمنستان، گرجستان و قرغیزستان با شرکای اصلی مانند چین، اتحادیه اروپا، روسیه و ایالات متحده الی ۶۰ فیصد رشد کرد. بنابراین، با وجود برخی تعدیل‌ها، پیش‌بینی می‌شود که رشد تولید ناخالص داخلی در قفقاز و آسیای مرکزی در سال ۲۰۲۴ به 3.9 فیصد برسد و در سال ۲۰۲۵ به ۴.۸ فیصد افزایش یابد.

حجم تجارت میان چین و اروپا از طریق آسیای مرکزی بیشتر از چهار برابر شده است. هرچند این مسیر، که به کوریدور میانه معروف است، تنها بخش کوچکی از تجارت کلی چین و اروپا را

شامل می‌شود، اما چشم‌انداز زیادی برای توسعه اقتصادی در قفقاز و آسیای مرکزی دارد و می‌تواند این منطقه را به طور مؤثر به زنجیره‌های عرضهٔ جهانی متصل کند.

تغییرات در الگوهای تجارتی فرصت‌های را در دیگر مناطق نیز به وجود آورده است. به طور مثال، کشورهای خاورمیانه و شمال آفریقا مانند کویت، عمان، قطر و الجزایر صادرات انرژی خود به اتحادیه اروپا را در سال‌های ۲۰۲۲ و ۲۰۲۳ تقریباً دو برابر کرده‌اند تا بتوانند به تقاضای فزاینده برای نفت و گاز غیر روسی پاسخ دهند.

**تغییر الگوهای تجارتی**

منطقه قفقاز و آسیای مرکزی از زمان تهاجم روسیه به اوکراین، شاهد افزایش تجارت با چندین شریک تجارتی کلیدی بوده است.

سهام تجارت با کشورهای شریک، ۲۰۲۱-۲۰۲۲

(فیصدی تغییرات)




منابع: مجموعه CEPII BACI و محاسبات کارمندان صندوق بین‌المللی پول.

یادداشت: فیصدی تغییرات در سهم قفقاز و آسیای مرکزی، خاورمیانه و شمال آفریقا و پاکستان، و روسیه در صادرات و واردات از/به شرکای تجارتی منتخب بین سال‌های ۲۰۲۱ و ۲۰۲۲.

IMF

حملات دریایی اخیر در دریای سرخ که ناشی از درگیری های غزه و اسرائیل است، نه تنها تجارت دریایی را مختل کرده و بر اقتصادهای همسایه تأثیر منفی گذاشته، بلکه موجب افزایش بی‌ثباتی شده است. عبور کشتی‌ها از کانال سوئز از زمان شروع این درگیری‌ها بیش از ۶۰ فیصد کاهش یافته و کشتی‌ها به اجبار مسیر خود را به دور از دماغه امید نیک تغییر داده‌اند. همچنین، حجم کالاها در بنادر دریای سرخ همچون العقبه در اردن و جده در عربستان سعودی به شدت کاهش یافته است. با این حال، بخشی از این تجارت به سمت بنادر منطقه ای مانند دمام در عربستان سعودی در خلیج فارس هدایت شده است.

**مصارف دریای سرخ**

اختلالات طولانی‌مدت در حمل‌ونقل دریایی از طریق دریای سرخ می‌تواند برای کشورهای همسایه پرمصرف باشد.

پیش‌بینی تأثیر اختلالات طولانی‌مدت در دریای سرخ

(فیصدی تغییرات)




منابع: مجموعه متوسط CEPII Gravity و محاسبات کارمندان صندوق بین‌المللی پول.

یادداشت: این سناریو فرض می‌کند که سطح فعلی اختلالات در تجارت دریایی از طریق دریای سرخ تا پایان سال ۲۰۲۴ ادامه دارد. این گراف تأثیرات یکساله را نشان می‌دهد. کشورهای همجوار با دریای سرخ شامل مصر، اردن، سودان، عربستان سعودی و یمن هستند.

IMF

اختلالات دوامدار در دریای سرخ می‌تواند تاثیرات اقتصادی قابل توجهی برای کشورهای آسیب‌پذیر این منطقه در پی داشته باشد. طبق یک سناریو در جدیدترین گزارش چشم انداز اقتصادی منطقه‌ای، اگر این اختلالات تا پایان سال ادامه یابد، کشورهای اطراف دریای سرخ (از قبیل؛ مصر، اردن، عربستان سعودی، سودان و یمن) ممکن است به طور اوسط حدود ۱۰ در صد از صادرات خود را از دست بدهند و تقریباً ۱ در صد از تولید ناخالص داخلی‌شان کاهش یابد.

در شرایط نامطمئن امروزی در عرصه تجارت بین‌المللی، دیدگاه ستراتیژیک و اصلاحات سنجیده در پالیسی‌ها، نقش کلیدی در رشد تجارت و افزایش درآمد کشورها خواهد داشت. برای غلبه بر چالش‌های ناشی از این شوک‌ها و استفاده از فرصت های پیش‌رو، کشورها باید موانع دیرینه تجارت، از جمله محدودیت های غیرتعرفه ای، ضعف زیرساخت ها و ناکارآمدی‌های مقرراتی را برطرف سازند.

اصلاحات هدفمند پالیسی می‌تواند در دستیابی به این هدف مؤثر باشد، اما آمادگی مناسب برای آن ضروری است. کاهش موانع غیرتعرفه‌ای تجارت، افزایش سرمایه‌گذاری در زیرساخت ها، و ارتقاء کیفیت مقررات می‌تواند به طور اوسط تا ۱۷ در صد در درازمدت به افزایش تجارت کمک کند. این درحالی است که تحقیق ما نشان می‌دهد تولید اقتصادی نیز ممکن است ۳ در صد افزایش یابد. این اقدامات همچنین می‌تواند تاب آوری در برابر شوک‌های تجارتی آینده را تقویت نماید.

**مزایای ناشی از پالیسی**

کشورها می‌توانند از طریق اصلاحات پیشگیرانه، صادرات و تولید ناخالص داخلی (GDP) بیشتری داشته باشند و در برابر شوک‌های آینده مقاوم‌تر شوند.




منابع: پایگاه معلومات CEPII Gravity و محاسبات کارمندان صندوق بین‌المللی پول (IMF)

اصلاحات گذشته نشان می‌دهد که اقدامات مؤثر قابل دستیابی هستند. ازبکستان با حذف کنترول‌های اسعاری و بهبود محیط کسب‌وکار، جذابیت خود را برای سرمایه‌گذاران خارجی افزایش داده و ادغام بیشتری با اقتصاد جهانی داشته است. عربستان سعودی با برنامه اصلاحی «چشم‌انداز ۲۰۳۰»، اقتصاد غیرنفتی خود را گسترش داده و تجارت بین المللی را از طریق کاهش محدودیت‌های مقرراتی در تجارت و سرمایه‌گذاری جذب کرده است. سرمایه‌گذاری آذربایجان در خط آهن باکو-تفلیس-قارص، که بخشی حیاتی از کوریدور میانه است، ظرفیت سرمایه‌گذاری در زیرساخت‌ها را نشان داده و ظرفیت حمل‌ونقل کالا را بین آسیا و اروپا افزایش می‌دهد. این ابتکارات قدرت تحول‌آفرین اصلاحات هدفمند در انطباق با شرایط جهانی و رشد در آن را به وضوح نشان می‌دهد.

کشورهای خاورمیانه و شمال آفریقا می‌توانند با بهبود مدیریت زنجیرهٔ عرضه، دریافت عرضه‌کنندگان جدید در سکتور های آسیب‌دیده، استفاده از مسیرهای بدیل حمل ونقل و ارزیابی ظرفیت حمل‌ونقل هوایی، اختلالات جاری در کشتیرانی را کاهش دهند. در میان‌مدت، تقویت و گسترش ارتباطات منطقه ای می‌تواند تاب‌آوری این کشورها را در برابر اختلالات تجارتی افزایش دهد. در این راستا، سرمایه‌گذاری در زیرساخت های حمل‌ونقل، به‌ویژه توسعه مسیرهای نوآورانه دریایی - زمینی، نقش کلیدی خواهد داشت.

ایجاد پروفایل تجارتی متنوع‌تر که شامل شرکا، محصولات و مسیرهای مختلف باشد، می‌تواند به طور چشمگیری توانایی منطقه را در مقابل اختلالات تقویت کند. تغییر الگوهای تجارتی فرصتی ویژه برای کشورهای مختلف فراهم می‌کند تا جایگاه خود را در ساختار اقتصادی جهانی مجدداً تعریف کنند.

**نویسنده: جهاد آزور**

**مترجم: سید آصف فکرت عضو بورد ترجمه د افغانستان بانک**



# اسعاري او سوداګريز جنګونه

مقدمه

اسعاري او سوداګريز جنګونه هغو اقتصادي جنګونو ته ويل کيږي چې په هغه کې هېوادونه هڅې کوي تر څو د خپلو پيسو د ارزښت د ټيټولو او د لوړو ګمرکي تعرفو د وضع کولو له لارې د نورو هېوادونو پر وړاندې سوداګريز خنډونه رامنځته کړي. په دې ليکنه کې د امريکا د متحده ايالاتو او نورو هېوادونو ترمنځ روان اسعاري او سوداګريز جنګ او پر افغانې او د افغانستان پر اقتصاد د دې جګړې اثرات څېړل کيږي.

اسعاري جنګ

هغه هېوادونه چې له سوداګريز کسر سره مخ دي يعنې واردات يې تر صادراتو زيات دي غواړي د خپل پولي واحد يا پيسو ارزښت د ډالرو او د هغو هېوادونو د پولي واحدونو پر وړاندې ټيټ کړي چې سوداګريزې اړيکې ورسره لري. له دې لارې هېوادونه غواړي تر څو د صادراتي توکو نرخونه يې ټيټ او د هېواد دننه د نورو هېوادونو د وارداتي توکو نرخونه پورته ولاړ شي. که چېرې د يو هېواد د پيسو ارزښت ټيټ وي د هغه هېواد صادرات د نورو هېوادونو په بازارونو کې ارزانه او په زيات تعداد خرڅيږي. په نتيجه کې په ياد هېواد کې د توليد کچه لوړه، خلکو ته د کار او شغل ډېر فرصتونه مساعد او د فابريکو او کارخانو خاوندان د خپلو محصولاتو د زيات پلور له امله ډېره

ګټه کوي، د دولت ماليات زياتېږي او په ټوله کې د ياد هېواد اقتصاد وده کوي. طبيعي ده چې متاثره هېوادونه هم په ورته عمل لاس پورې کوي او د خپلو پيسو ارزښت ټيټوي چې په پايله کې يې د ښکېلو هېوادونو تر منځ اسعاري او سوداګريز جنګونه پيلېږي چې پايلې يې ټولو خواو ته ناوړه عواقب لري.

د مثال په توګه که د يو آيفون بيه ۱۵۰۰ امريکايي ډالره وي او د ډالرو د تبادلې نرخ اتيا افغانۍ وي، د افغانستان په بازارونو کې د يو آيفون قيمت ۱۲۰،۰۰۰ افغانۍ (۱۵۰۰×۸۰=۱۲۰،۰۰۰) کېږي. خو که ډالر ضعيفه او يو ډالر په اويا افغانۍ تبادله شي، د ياد آيفون قيمت ۱۰۵،۰۰۰ افغانۍ (۱۵۰۰×۷۰=۱۰۵،۰۰۰) کېږي. که چېرې ډالر نور هم ضعيفه او افغانۍ قوي شي او يو ډالر په شپېته افغانۍ تبادله شي د آيفون بيه ۹۰۰۰۰ (۱۵۰۰×۶۰=۹۰۰۰۰) افغانيو ته راټيټېږي. دا پداسې حال کې ده چې په ټولو حالاتو کې د آيفون ډالري نرخ ۱۵۰۰ ډالره ثابت پاتې شوی دی او د آيفون صادرونکي امريکايي شرکت ته څه تاوان نه رسېږي خو له دې امله چې ډالر د افغانۍ پر وړاندې ضعيفه شوی، د افغانستان په بازارونو کې د يو آيفون بيه په ترتيب سره ۱۵،۰۰۰ او ۳۰۰۰۰ افغانۍ ټيټېږي او په پايله کې ورته تقاضا ډېره او پلور يې زياتېږي.

له بلې خوا د پيسو د ارزښت د کمښت له امله په يو هېواد کې د نورو هېوادونو د وارداتي توکو او اجناسو بيې هم لوړېږي او خلک دې ته ترجيح ورکوي چې د وارداتي توکو په ځای داخلي توکي او اجناس واخلي. دا په خپل وار سره د داخلي صنايعو د تقويت او د توليداتو د ډېرښت سبب ګرځي.

د مثال په توګه که د يو ټن کندهاري انارو بيه ۶۰،۰۰۰ افغانۍ وي او يو ډالر اتيا افغانۍ وي نو د يو ټن انارو بيه ۷۵۰ ډالره کېږي. خو که ډالر د افغانۍ پر وړاندې ضعيفه شي او يو ډالر په اويا افغانۍ وي، د يو ټن انارو بيه شاوخوا ۸۵۷ ډالره کېږي. خو که ډالر نور هم ضعيفه او افغانۍ قوي شي او يو ډالر په شپېته افغانۍ تبادله شي د يو ټن انارو بيه ۱۰۰۰ ډالره کېږي. په دې مثال کې د انارو د افغانۍ نرخ ثابت يعنې ۶۰۰۰۰ افغانۍ دی خو دا چې ډالر د افغانۍ پر وړاندې ضعيفه شوی دی په امريکا او نورو نړۍوالو بازارونو کې د يو ټن انارو ارزښت په ترتيب سره ۱۰۷او ۲۵۰ ډالره لوړ شوی دی. پرته له دې چې افغاني سوداګر ته څه ګټه ورسېږي او يا د انارو د افغانيو په بيه کې څه زياتوالی راشي د نورو هېوادونو په بازارونو کې د انارو نرخ لوړېږي او په پايله کې د افغانستان انارو ته تقاضا کمېږي او لږ خرڅېږي.

د پيسو د ارزښت د ټيټولو بله ګټه دا ده چې بهرني سيلانيان تشويقېږي تر څو هغه هېواد ته د سياحت لپاره ورشي چې د پيسو ارزښت يې ټيټ وي. ځکه چې د هغوی پولي واحد په ياد هېواد کې په زياتو پيسو بدلېږي او ډېر څه پرې لاس ته راځي. پر دې سربېره د پيسو د ارزښت ټيټوالی د بهرنۍ پانګونې د جلب لپاره هم خورا مؤثر دی.

د دې لپاره چې د يو هېواد د پيسو ارزښت د بل هېواد يا نورو هېوادونو د اسعارو پر وړاندې ټيټ شي، ياد هېواد په يو لړ اقداماتو لاس پورې کوي. يو له دې اقداماتو څخه هم د پيسو ډېر چاپ دی چې په نتيجه کې يې د يو هېواد د پيسو ارزښت ټيټېږي. همدارنګه په اسعاري جګړه کې د برې لپاره د يو هېواد مرکزي بانک د پيسو په بازارونو کې د بل هېواد د پولي واحد د اخيستلو له لارې کولای شي د دې هېواد پولي واحد ته مصنوعي تقاضا ډېره او په نتيجه کې يې ارزښت زيات کړي.

د امريکا متحده ايالاتو په شمول ټول صنعتي او پرمختللي

هېوادونه دا هڅې کوي چې د خپلو پیسو ارزښت د نورو هېوادونو د اسعارو پر وړاندې ضعیفه کړي. خو امریکا دا هڅه هم کړې ده چې د سرو زرو پر وړاندې د ډالرو ارزښت ټیټ او له دې لارې په غیر مستقیمه توګه د نورو اسعارو پر وړاندې هم د ډالرو ارزښت ټیټ کړي. د ۱۹۷۱ کال څخه مخکې، د برېټن ووډز د موافقې پر بنسټ چې له دوهم نړیوال جنګ څخه وروسته په ۱۹۴۴ کال کې لاسلیک شوه، د یو اونس سرو زرو نرخ په ثابته توګه ۳۵ ډالره وټاکل شو. د یادې موافقې پر بنسټ د ډالرو بیه له سرو زرو سره او د نورو اسعارو بیه له ډالرو سره په ثابته توګه تړل شوې وه. دا په دې معنی و چې که چېرې هېوادونو، شرکتونو او یا افرادو غوښتل چې خپل ډالر پر سرو زرو بدل کړي د امریکا دولت او بانکونه ژمن وو ترڅو د هرو ۳۵ ډالرو په بدل کې هغوی ته یو اونس سره زر ورکړي. په ۱۹۷۱ کال کې د وخت جمهور رئیس ریچارډ نکسون له یادې موافقې څخه د امریکا وتل اعلان کړل. په پایله کې د امریکا دولت د ډالرو په بدل کې د سرو زرو تبادله ودروله او د ډالرو او سرو زرو تر منځ ثابته اړیکه له منځه ولاړه. د ۱۹۷۱ کال راهیسې په تدریجي توګه د ډالرو ارزښت د سرو زرو پر وړاندې په ټیټېدو شو. اوس په نړیوالو بازارونو کې د یو اونس سرو زرو بیه تقریباً ۳۲۰۰ ډالره کېږي. یعنې په تېرو پنځو لسیزو کې ډالرو د سرو زرو پر وړاندې ٪۱۰۰،۰۰۰ خپل ارزښت له لاسه ورکړی او په همدې توګه نورو اسعارو هم د سرو زرو پر وړاندې خپل ارزښت له لاسه ورکړ.

**سوداګریز جنګ**

که چېرې یادې چارې د یو هېواد د پیسو د ارزښت په ټیټولو کې مؤثرې ثابتې نشي او یا په سوداګریز کسر کې د پام وړ بدلون رانشي، بیا هېوادونه په سوداګریز جنګ لاس پورې کوي. په سوداګریزه جګړه کې یو هېواد د نورو هېوادونو څخه په واردو شوو توکو ګمرکي تعرفې لوړوي او له دې لارې غواړي چې د هېواد په بازارونو کې د نورو هېوادونو د وارداتي توکو نرخونه لوړ کړي تر څو یادو توکو ته تقاضا کمه او د داخلي تولیداتو په پرتله کم وپلورل شي. د اناروه اړوند په پورتنۍ بېلګه کې که چېرې لس سلنه ګمرکي تعرفه هم د انارو د یو ټن پر نرخ ور اضافه کړو، د امریکا په بازارونو کې د یو ټن انارو بیه تقریباً ۱۱۰۰ ډالره کېږي. د سوداګریز جنګ یوه ډېره افراطي حربه د نورو هېوادونو د توکو پر وړاندې د سرحدونو بندول دي چې زموږ ځیني ګاونډي هېوادونه یې په حساسو وختونو کې د افغانستان پر وړاندې ترسره کوي. په اقتصادي اصطلاح کې دې عمل ته د داخلي تولیداتو څخه حمایوي سیاست وايي.

د ټرمپ اداره په دې لټه کې ده چې د ګمرکي تعرفو د لوړولو له لارې د امریکا په بازارونو کې د وارداتي توکو بیې لوړې کړي. ټرمپ په دې وسیله غواړي چې د داخلي صنایعو او تولیداتو څخه ملاتړ وکړي تر څو د دوی په پایله کې خلکو ته د کار زمینې مساعدې او د امریکا اقتصاد وده وکړي.

ټرمپ د ۲۰۲۵ میلادي کال د فبرورۍ په میاشت کې د کاناډا او مکسیکو څخه په واردو شوو توکو ٪۲۵ او له چین څخه په واردو شوو توکو ٪۱۰ سلنه ګمرکي تعرفه ولګوله. د همدې کال د اپریل پر دویمه نېټه، ټرمپ په عمومي توګه، د افغانستان په شمول، د ټولو هغو هېوادونو په وارداتي توکو چې د امریکا له متحدو ایالاتو سره سوداګریزې اړیکې لري لږ تر لږه لس سلنه ګمرکي تعرفې وضع کړې. هغه همدارنګه په ځانګړې توګه، د چین په شمول، امریکا ته د شپېتو نورو هېوادونو پر وارداتي

توکو له ٪۲۰ څخه تر ٪۵۰ پورې ګمرکي تعرفې وضع کړې. له دې سره په چینايي توکو په مجموعي توګه تقریبا ٪۵۴ ګمرکي تعرفې وضع شوې. د ټرمپ د دې اعلان په غبرګون کې چین، کاناډا، اروپايي اتحادیې او نورو هیوادونو له امریکا څخه پر واردو شوو توکو متقابلې لوړې ګمرکي تعرفې وضع کړلې. چین په متقابله او انتقامي توګه تقریباً پر ټولو امریکایي توکو ٪۳۴ ګمرکي تعرفې ولګولې او امریکا ته یې د ځینو مهمو او نادرو منرالونو پر صادراتو بندیز ولګاوه. د روان کال اپریل پر نهمه، ټرمپ په متقابل ځواب کې امریکا ته د چین پر وارداتي توکو ٪۵۰ نوره ګمرکي تعرفه هم ور زیاته کړه چې له دې سره پر چینايي واردو شوو توکو مجموعاً ٪۱۰۴ ګمرکي تعرفې وضع شوې. چین هم په یاده نېټه پر امریکایي وارداتي توکو نوره ٪۵۰ ګمرکي تعرفه اضافه کړه او د تعرفې مجموعي مقدار یې ٪۸۴ ته ورساوه. امریکا په متقابل اقدام کې پر چینايي توکو تعرفه ٪۱۴۵ لوړه کړه او چین په ورته اقدام کې پر امریکایي توکو ٪۱۲۵ تعرفه ولګوله.

د امریکا له خوا د چین او نورو هیوادونو پر توکو د لوړو ګمرکي تعرفو وضع کول او د چین او نورو هیوادونو لخوا پر امریکایي توکو د متقابلو او انتقامي تعرفو لګول یو نړۍوال سوداګریز او اسعاري جنګ رامنځته کړ او د نړۍوال اقتصادي رکود د پېښېدو وېره یې پیدا کړه. په ځانګړې توګه هغه هیوادونه چې پر صادراتو متکي دي د ګمرکي تعرفو د لوړېدو له امله ډېر زیانمن کېږي. امریکا ته به د دوی د صادراتي توکو نرخونه لوړ او له امله به یې دې توکو ته تقاضا کمه شي. په پایله کې به په دې هیوادونو کې ډېر هغه سکتورونه چې پر صادراتو ولاړ دي متاثره او په دې هیوادونو کې به په میلیونونو خلک دندې او کار له لاسه ورکړي. همدارنګه د تعرفو د لوړېدو له امله د ډالرو د ضعیفه کېدو او په امریکا کې د اوږد مهاله انفلاسیون احتمالات هم قوي شوي دي.

### پایله

اسعاري او سوداګریز جنګونه په نړۍوال اقتصاد کې له خورا خطرناکو جنګونو څخه ګڼل کېږي. په دې جګړو کې هیوادونه د خپلو پیسو د ارزښت د ټیټېدو، د لوړو ګمرکي تعرفو د وضع کولو او ځینې وختونه د لارو او بندرونو د تړلو له لارې د نورو هیوادونو پر وړاندې سوداګریز خنډونه رامنځته کوي. د امریکا او چین د تعرفو جګړې دا په ډاګه کړه چې د نړۍوالتوب په دې عصر کې چې هیوادونه په اقتصادي لحاظ په یو بل متکي دي، اسعاري او سوداګریز جنګونه د هیڅ یو هیواد په ګټه نه دي او کولای شي په ټولو ښکیلو هیوادونو کې انفلاسیون زیات او د کار او دندو فرصتونه له منځه یوسي. دې جګړو دا هم وښوده چې د اسعاري او سوداګریزو جګړو له لارې هیڅ هیواد نشي کولای خپل اقتصادي پرمختګ تضمین او ګاونډي هیوادونه د فقر کندې ته ټېل وهي.

دوکتور محمد یوسف سلیم
د افغانستان بانک د پالیسی ارشد مشاور

# اف پی کارت هیوادوالو ته د آسانتیاوو برابرولو په موخه په پام کې نیول شوی دی.



# اقتصادي خبرونه

## نړۍوال بانک: دافغانستان اقتصادي وده ۲.۵ سلنه زیاته شوې ده

نړۍوال بانک په تازه خپاره کړي راپور کې ویلي، چې د نړۍوالو مرستو د کمېدو سربېره هم د ۲۰۲۴ او ۲۰۲۵ مالي کال پر مهال د افغانستان اقتصاد ۲.۵ سلنه وده کړې ده. په راپور کې ویل شوي، چې اقتصادي وده د هېواد د وګړو د ودې له کچې ټیټه ده. یاد بانک دغه راز د ۲۰۲۵ او ۲۰۲۶ مالي کال لپاره د اقتصادي ودې کچه ۲.۲ سلنه اټکل کړې ده.



## تفاهمنامه تجاری به ارزش ۱۴۰ میلیون دالر میان افغانستان و قزاقستان به امضاء رسید

کابل (پژواک، ۲ ثور ۱۴۰۴): وزارت صنعت و تجارت می‌گوید، که در «مجمع تجاری قزاق –افغان» ۱۷ تفاهم‌نامه تجاری به ارزش ۱۴۰ میلیون دالر میان افغانستان و قزاقستان به امضاء رسید. امروز (سه شنبه، ۲ ثور) «مجمع تجاری قزاق –افغان» باشتراک بیش از ۴۰۰ تاجر و سرمایه‌گذار افغان و قزاق به‌منظور افزایش سطح تجارت میان دو کشور در شهر کابل برگزار شده، که شامل کنفرانس‌های تواصل تجارتی، نشست‌های تجاری دوجانبه و هم چنان نمایشگاهی از محصولات دو کشور می‌باشد. نورالدین عزیزی، سرپرست وزارت صنعت و تجارت طی یک نشست خبری در مورد نشست مجمع تجاری قزاق – افغان گفت، در این نشست ۲۰ تفاهم‌نامه میان دو کشور امضاء شده‌است. به گفتهٔ عزیزی، این تفاهم‌نامه‌ها شامل ۱۷ تفاهم‌نامه تجاری به ارزش ۱۴۰ میلیون دالر و ۳ تفاهم‌نامه همکاری می‌باشد. براساس معلومات عزیزی، این تفاهم‌نامه‌ها در بخش های لوجیستیک، ادویه، کود کیمیاوی، تولید آرد...به امضاء رسید. وی همچنان گفت که از طرف افغانستان قرارداد هایی در بخش های سنگ‌های تزیینی، سکتور پخته، میوهٔ خشک وتازه، سبزیجات و صادرات قالین صورت می‌گیرد. نورالدین عزیزی همچنان در افتتاح این مجمع گفته بود که میزان تجارت میان دو کشور ۳۲ درصد افزایش یافته و همچنان دو طرف در نظر دارند تا میزان دادوستد میان دو کشور به سه میلیارد دالر برسد.

سریک ژومانگارین، معاون نخست وزیر قزاقستان در مراسم افتتاح این نمایشگاه افغانستان و قزاقستان را شرکای کلیدی و ستراتیژیک در منطقه خوانده و برگزاری مجمع تجاری میان دو کشور را در تقویت همکاری های اقتصادی مهم عنوان کرده بود. گفتنی است که این نمایشگاه با اشتراک ۲۵ شرکت قزاقستانی برگزار شده‌است.

**تیر کال د هند او افغانستان تر منځ د سوداګرۍ کچه ۸۹۰ میلیونه ډالر وه**

کابل (پژواک، ۹ غویی ۱۴۰۴) د صنعت او سوداګرۍ وزارت وايي چې تیر ۱۴۰۳ کال کې د هند او افغانستان تر منځ د ۸۹۰ میلیون امریکایي ډالرو په ارزښت سوداګریزه راکړه ورکړه شوې ده. د صنعت او سوداګرۍ وزارت ویاند اخندزاده عبدالسلام جواد په یو ویډیویي کلیپ کې ویلي چې په تیر ۱۴۰۳ کال کې د هند او افغانستان ترمنځ د سوداګرۍ ارزښت ۸۹۰ میلیونه امریکایي ډالر وو چې ۶۲۷ میلیونه ډالر صادرات او ۲۶۳ میلیونه ډالر واردات جوړه وي هغه زیاته کړې چې هند ته د افغانستان د صادراتو ډیره برخه انځر، انجه او د انجي تخم، زعفران، ممیز، زیره او بادام جوړوي. د هغه د معلوماتو پر بنسټ، له هند څخه افغانستان ته د وارداتو ډیری برخه بوره، د صنعتي فابریکو خام توکي، کتاني، ټوکر، د موټرو پرزې، ماشین آلات او نور دي.



**منابع:**


۱- سپوږمۍ راډیو / ۲-پژواک

# تورم در افغانستان و نقش د افغانستان بانک در ثبات قیمت‌ها

تورم یکی از مهم ترین شاخص های اقتصادی است که نه‌تنها بر قدرت خرید خانوارها تأثیر می گذارد، بلکه معیاری برای سنجش موفقیت یا ناکامی سیاست‌های پولی و مالی محسوب می‌شود. بررسی علمی روند تورم سالانه در افغانستان، به ویژه در چارچوب داده‌های رسمی د افغانستان بانک، می‌تواند بینش دقیقی نسبت به وضعیت اقتصادی کشور و عملکرد نهادهای پولی ارائه دهد. این مقاله بر اساس نمودار نرخ تورم سالانه از سال ۱۳۹۹ تا ۱۴۰۲ تدوین شده است و تلاش می‌نماید ضمن تحلیل روند تورم، نقش د افغانستان بانک را در ثبات قیمت‌ها و بهبود شاخص‌های اقتصاد کلان برجسته سازد.

۱- تحلیل تورم در دوره زمانی ۱۳۹۹ تا ۱۴۰۲

سال ۱۳۹۹ را می‌توان یکی از سال های پرتلاطم از منظر تورم در افغانستان دانست. نرخ تورم عمومی به حدود ۱۵ درصد و نرخ تورم مواد خوراکی حتی به بالای ۲۰ درصد افزایش یافت. علت این جهش تورمی را می‌توان در مجموعه‌ای از عوامل سیاسی و اقتصادی جستجو کرد: کاهش واردات ناشی از بحران‌های امنیتی، اختلال در زنجیره‌های تأمین جهانی، افزایش بهای ارزهای خارجی و کاهش ارزش افغانی. در نتیجه، هزینه سبد مصرفی خانوارها – به‌ویژه مواد غذایی – به‌شدت افزایش یافت و فشار معیشتی قابل ملاحظه‌ای بر اقشار آسیب‌پذیر وارد کرد. چنین تورمی، نه‌تنها قدرت خرید مردم را کاهش داد، بلکه ثبات اقتصادی



را نیز تهدید نمود. در سال ۱۴۰۰، روند تورم معکوس شد و کاهش معناداری در شاخص‌های قیمتی به ثبت رسید. این روند به‌گونه‌ای بود که در برخی ماه ها نرخ تورم منفی گردید – به عبارتی دیگر، اقتصاد وارد فاز «تورم منفی» یا دیفلاسیون شد. هرچند کاهش قیمت‌ها در ظاهر ممکن است برای مصرف‌کنندگان مطلوب باشد، اما در تحلیل اقتصادی این پدیده معمولاً علامتی از رکود و کاهش تقاضای کل محسوب می شود. کاهش گردش پول، افت سرمایه‌گذاری، بیکاری پنهان و بی‌ثباتی تولید از تبعات این وضعیت بودند. چنین تحولاتی نشان می‌دهند که افت تورم همیشه به معنای بهبود اقتصادی نیست، بلکه ممکن است بازتابی از کاهش فعالیت‌های اقتصادی و فرسایش قدرت خرید باشد.

از اواخر سال ۱۴۰۱ به بعد، اقتصاد افغانستان نشانه‌هایی از ثبات تدریجی در سطح عمومی قیمت‌ها نشان داد. نمودارها گویای آن‌اند که نرخ تورم عمومی به حدود ۱.۵۸ درصد رسیده و حتی نرخ تورم مواد خوراکی در برخی ماه‌ها منفی ثبت شده است. این وضعیت از یک سو حاکی از احیای تعادل میان عرضه و تقاضا در بازارهای کالا و خدمات است، و از سوی دیگر، نشانگر نقش‌آفرینی موفق د افغانستان بانک در کنترول تورم از طریق ابزارهای سیاست پولی چون مدیریت نقدینگی و تثبیت نرخ ارز می باشد. کنترول تورم در این دو سال، اگرچه شکننده اما واقعی بوده، و زمینه ای برای تقویت اعتماد اقتصادی در جامعه فراهم کرده است.

مقایسه سه دوره مورد بررسی نشان می‌دهد که افغانستان در سال ۱۳۹۹ با یک بحران تورمی گسترده مواجه بود، اما در سال ۱۴۰۰ با ورود به فاز تورم منفی، اقتصاد به نوعی رکود رفت. در سال های ۱۴۰۱ و ۱۴۰۲، سیاست گذاری های اصلاحی به‌ویژه توسط د افغانستان بانک، مسیر اقتصاد را به‌سوی ثبات هدایت نمود. این سیر نزولی و سپس کنترول شده تورم، نه تنها از منظر آماری قابل توجه است، بلکه از دیدگاه اعتمادسازی اقتصادی و مدیریت انتظارات تورمی نیز حائز اهمیت می‌باشد. تداوم این روند مستلزم حمایت از تولید داخلی، ثبات سیاسی، و پایداری در اجرای سیاست های پولی و مالی خواهد بود.

د افغانستان بانک به‌عنوان نهاد تنظیم‌کننده سیاست پولی، طی این سال‌ها با استفاده از ابزارهای متنوع و علمی توانست نقش کلیدی در مدیریت تورم ایفا نماید. عرضه مدیریت‌شده ارز خارجی در بازار، به‌ویژه از طریق حراج‌های منظم ارزی، موجب تثبیت نرخ افغانی و کاهش هزینه واردات شد. با کاهش پایه پولی و مهار رشد نقدینگی، د افغانستان بانک توانست انتظارات تورمی را مهار کرده و از تشدید فشار بر قیمت‌ها جلوگیری کند. انتشار منظم آمار و تحلیل‌های اقتصادی، اعتماد بازار را به سیاست‌گذار پولی افزایش داده و فضای تصمیم‌گیری فعالان اقتصادی را شفاف‌تر ساخت. ایجاد فرصت برای دسترسی مردم به منابع مالی اسلامی، به‌ویژه در مناطق محروم، ضمن تقویت اشتغال و تولید داخلی، از فشار بر سبد مصرفی خانوار کاست. نمودار تورم سالانه بیانگر آن است که افغانستان طی یک دوره پرتلاطم اقتصادی، مؤفق به عبور از چالش‌های تورمی شده و اکنون به مرحله‌ای از ثبات نسبی در سطح قیمت‌ها رسیده است. نقش محوری د افغانستان بانک در این موفقیت قابل چشم‌پوشی نیست. سیاست گذاری های علمی، اجرای دقیق برنامه‌های پولی، و اعتمادسازی در بازار، سه عنصر کلیدی عملکرد این نهاد در سه سال گذشته بوده است.

**محمد کاظم سروری**

**مدیر ارتباط رسانه ها – د افغانستان بانک**



# پرمختګ؛ یعنې دا چې څنګه سیالي وکړو، وده وکړو او خوندي پاتې شو

(دا مقاله د پیسو نړۍوال صندوق له ویبپاڼې څخه ژباړل شوې ده.)

د خصوصي سکتور د رقابت، ودې او خوندیتوب لپاره د نړۍوال بانک هڅې

خصوصي پانګونه پوازې په هغه ځای کې جریان پیدا کوي چې مناسب شرایط شتون ولري او د ګټې ترلاسه کول په کې ښکاره وي.

نړۍوال بانک د خیریه یا بشردوستانه موخو پربنسټ نه، بلکې د یوې ستراتیژیکې طرحې پر بنسټ رامنځته شوی دی، چې موخه یې د یو داسې نړۍوال اقتصادي چاپېریال رامنځته کول دي چې د خصوصي سکتور د پانګونې لپاره مناسب وي. د دې بانک د جوړېدو موخه د خیریه کارونو وړاندې کول نه؛ بلکې د اقتصادي ودې دزیاتېدو او د بې‌ثباتۍ د مخنیوي لپاره یو محاسبه شوی حرکت دی. په تېرو کلونو کې، زموږ ماموریت بشپړ شوی او‌ځینې وختونه به موږ په بشر دوستانه هڅو او کړنو بوخت وو، خو د تېرو دوو کلونواصلاحاتو په اوږدو کې، موږ پر خپلو بنسټیزو موخو یعنې دپرمختګ په رامنځته کولو او د بیوزلۍ په کمولو تمرکز کړی دی،

يادي موخې ته د رسېدو لپاره د اړتيا وړ سرچينې په پام کې لرو، ترڅوخصوصي سکتور يو فعال لوبغاړی واوسي.

دا موضوع اوس مهال له بل هر وخت څخه ډېره مهمه ده او په دواړو د پرمختګ په حال او په پرمختللو هېوادونو کې بار بار يوه پوښتنه راپيدا کيږي چې وايي" په دې هېوادونو کې راتلونکې څنګه تر سترګو کيږي او ولې بايد په دې هېوادونو کې پانګونه وکړو؟ " دا يو معقوله پوښتنه ده چې بايد يوازې په خبرو نه، بلکې په عمل سره ځواب شي. د دې پوښتنې تر شا د پرمختګ هغه هيلې پرتې دي چې نه بايد يوازې اغېزه ولري، بلکې ريښتيني فرصتونه او زيات خونديتوب هم بايد رامنځته کړي.

زموږ موخه او ليدلوری په پراخه کچه د دندو رامنځته کول دي. د پر ځان بسيا اقتصادونو د جوړولو، د بشري اړتياوو د کمولو او توکو لپاره د تقاضا رامنځته کولو لپاره د دندو رامنځته کول تر ټولو غوره او اغېزناکه لاره ده. همدارنګه، د دندو رامنځته کول د جرمونو، بې ثباتۍ او پراخې کډوالۍ د ريښو د لمنځه وړلو له لارې نړۍوال ثبات پياوړی کوي.

زموږ وروستی هدف د داسې متحرکو خصوصي سکتورونو د رامنځته کولو او پياوړي کولو په برخه کې له هېوادونو سره مرسته کول دي، چې د ځايي دندو د رامنځته کولو له لارې وده او پرمختګ وکړي، نه له پرمختللو هېوادونو څخه د کار د ليږدولو له لارې، بلکې په هغو ځايونو کې د فرصتونو د رامنځته کولو له لارې وده وکړي چې خلک پکې له وړاندې ژوند کوي. دا په دې معنا ده چې د انرژۍ، زېربنا، کرنې، روغتيا، ګرځندوی او توليدي سکتورونو ته په ځانګړي ډول په هغو هېوادونو کې چې بډايه طبيعي زېرمې لري، وده ورکړو، ترڅو يو فعال او متحرک کورنی اقتصاد رامنځته شي.

همدا ډول، نړۍوال بانک له پانګه والو سره مرسته کوي ترڅو خپله پانګه په دې بازارونو کې په اغېزناکه توګه په کار واچوي، ترڅو له نړۍوالو ننګونو سره د مبارزې ترځنګ مثبتې ګټې تضمين او بازار ته د لاسرسي ترڅنګ، د اقتصادي ودې بنسټونه لکه روڼتيا، د فساد پر وړاندې مبارزه او د قراردادونو د تطبيق نظام پياوړي کړي.

خودا نه شو ويلی چې که موږ په سمه توګه کارونه ترسره کړو، نو دندې به پخپله رامنځته شي. يو ناسم دوديز تصور چې موږ يې تر اوسه پورې وروسته پاتې کړي يو، دا باور او مفکوره وه چې "له ميلياردونو څخه تر ټريليونونو" په نوم مشهوره وه او فکر کېده چې ګواکې خصوصي پانګه چمتو ده او يوازې لګول کېدلو ته انتظار باسي. نه يوازې دا باور له واقيعت ليرې وو، بلکې يوه هيله مندي يې هم رامنځته کړې وه، يعنې دا تصور چې پرمختګ به د بنسټونو له برابرولو پرته، په خپلکاره توګه رامنځته شي.

په حقيقت کې، خصوصي پانګونې يوازې هغو ځايونو کې ترسره کيږي چې مناسب شرايط او د ګټې ترلاسه کولو ښکاره احتمال ولري. د دې لپاره، دوه موارد اړين دي: پياوړي زيربنايي پروژې او د وړاندوينې وړ تنظيم شوې چاپيريال، له دې مواردو پرته، خصوصي پانګه يوې غاړې ته پاتې کيږي.

له همدې امله د نړۍوال بانک ډله په دې برخه کې عملي اقدامات ترسره کوي او له حکومتونو سره د مهمو زيربناوو (بنسټيزو پروژو) په مالي تمويلولو کې مرسته غواړي او له دې ډاډ ترلاسه کوي چې سرچينې په اغېزناکه ډول کارول کيږي. موږ عملي اصلاحات لکه د ماليې

غوره سیستمونه او د څمکو اړوند هغه اصول (قوانین) په پام کې نیسو چې د یو کاروبار فعالیت آسانوي. په دې توګه، مالي تمویل له حقیقي پایلو سره اړیکه لري نو له همدې امله په دې برخه کې هر لګول شوی امریکایي ډالر خپل اغېز لري.

کله چې شرایط برابر شي، زموږ د خصوصي سکتور شریکان (د تمویل نړیوال شرکتونه او د څو اړخیزې پانګونې د تضمین آژانس)د مالي تمویل، وندو، تضمینونو او د سیاسي خطر د بیمې پر وړاندې کولو سره له کاروبارونو (سوداګریو) سره د دندو د رامنځته کولو په برخه کې مرسته کوي. دوی همدارنګه د سیمه ییزو اړتیاوو پر بنسټ د مهارتونو د لوړولو ملاتړ هم کوي. د دولتي سکتور له ملاتړ څخه د خصوصي سکتور تر بشکیلتیا پورې دا تداوم یوازې ډېر عالي نه دی؛ بلکې دا په هغه حالت کې اغېزناک دی چې پرمختګ هم مقیاس او هم دوامداره پیاوړتیا ته اړتیا ولري.

زموږ ماموریت او ژمنه چې تر ۲۰۳۰ زیږدیز کال پورې به ۳۰۰ میلیونه افریقایي وګړو ته برېښنا برابره کړو، ستر ماموریت دی. دې موخې ته د رسېدو لپاره، دولتونه په پالیسیو او مقرراتو کې اصلاحاتو او پانګونې ته ژمن شوي دي، داسې ژمنتیاوې چې د نړۍوالې پراختیایي ټولنې (IDA) له تمویل سره تړلي دي، ترڅو د دې پروژې د پلي کېدو څخه ډاډ ترلاسه کړي. دا چاره خصوصي پانګوالو ته باور ورکوي ترڅو له موږ سره په دې بهیر کې یو ځای شي.

په داسې وخت کې چې موږ د بودجې له محدودیت، نړۍوالو تنګونو او کمزورې اقتصادي ودې سره لاس او ګرېوان یو، نړۍوال بانک ونډه لرونکو دولتونو ته یو ښه فرصت په لاس ورکوي، ترڅو خپلې اقتصادي او ستراتیژیکې موخې پر مخ یوسي. د مالیه ورکوونکو د ونډو په کارولو سره، موږ کولای شو دا ونډې لس (۱۰) چنده زیاتې پانګونې ته بدلې کړو او د نسبتاً کمو پانګونو پر ځای پراخه پانګه ییز جریانونه رامنځته کړو.

نړۍوال بانک په تېرو ۸۰ کلونو کې، د بیارغونې او پراختیا نړۍوال بانک (IBRD) ته چې د پرمختګ په حال کې هېوادونو او خصوصي سکتور لپاره زموږ د پور ورکونې مرکزي اداره ده، د ۲۹ میلیارد ډالرو پانګې په ورکولو سره، شاوخوا ۱.۵ ټریلیونه ډالره د پرمختیا لپاره ورکړي دي چې له هر ۱ ډالر څخه تر ۵۰ پورې یې ګټه کړې ده. نړۍوال بانک د نړۍ تر ټولو بېوزله هېوادونو لپاره د نړۍوالې پراختیایي ټولنې (IDA) د بلا عوضو مرستو او ټیټ لګښت لرونکو تمویلاتو څخه کار اخلي. دا د پرمختیا له پلوه د حکومتونو، مالیه ورکوونکو او د نړۍ لپاره یو له غوره پانګونو څخه ګڼل کېږي.

د پرمختیا په حال کې نړۍ، د راتلونکو نسلونو د کارکوونکو، متشبثینو، او نوښتګرو کور دی، دا یوه جمعیتي (دیموګرافیکه) ونډه ده او که چېرې سمه وپالل شي؛ نړۍواله وده به د څو لسیزو لپاره پیاوړې کړي. همداراز، دا هېوادونه بډایه طبیعي سرچینې لري چې کولای شي صنعتونه وکاروي، هېوادونو ته خواړه چمتو او اقتصادونه بدل کړي. پرمختیا یوازې د رنځ او ستونزو کمول نه دي؛ بلکې د سترو او نه کارول شوو څخه کار اخیستل هم دي.

**ژباړه: فاتح الله صافي**

**د افغانستان بانک د ژباړې د بورډ غړی**

**افغانی پول با ارزش است و طی سه سال گذشته بگونه دوامدار ارزش خود را در مقابل سایر اسعار به خوبی حفظ کرده است.**





# بربښنايي پولي واحدونه څرنګه له کوچنيو کاروبارونو سره مرسته کولای شي

(دا مقاله د پيسو نړۍوال صندوق له وېبپاڼې څخه ژباړل شوې ده.)

په تېرو څو کلونو کې، د بلاک چېن ټکنالوژۍ د پرمختګ په پايله کې د برېښنايي شتمنيو نوې ډولونه لکه ستېبل کواين (Stablecoins) او کرېپټو کرنسي (Cryptocurrencies) رامنځته شوي دي. دا نوښتونه د اداينو د نويو سيستمونو د رامنځته کولو لپاره بنسټ برابروي چې په نړۍواله کچه مالي شتمنۍ او پيسې نه يوازې په هم مهاله توګه بلکې په کم لګښت سره لېږدوي. د بيټ کواين يا ايتيريوم په څېر د کرېپټو کرنسي له ستېبل کواين سره توپير لري، څکه چې ستېبل کواين د بيټکواين يا ايتيريوم په پرتله ډېر کم نوسانات لري او ډېری وخت له يو رسمي پولي واحد لکه امريکايي ډالر سره تړلي وي. همداراز، ستېبل کواين حکومتونه دي ته هڅولي تر څو د مرکزي بانکونو د برېښنايي پولي واحدونو د پلټنې او څېړنې اړوند خپلې هڅې چټکې کړي. حال دا چې د کرېپټو کرنسي د غير متمرکزو او بېلابېلو شبکو او سيستمونو پر بنسټ فعاليت کوي، خو د مرکزي بانکونو برېښنايي پولي واحدونه بيا د دولتي سکتور د سيستمونو پر بنسټ پر مخ وړل کېږي او د برېښنايي نغدو پيسو په توګه چې د مرکزي بانک لخوا صادر او مستقيم پور او مکلفيت يې ګڼل کېږي، عمل کوي.

برېښنايي شتمنۍ او کرېپټو کرنسي د نوو مالي خدمتونو د وړاندې کولو او په مالي سکتور کې د لا زياتې سيالۍ د رامنځته کولو لپاره د پام وړ ظرفيت لري. د بېلګې په ډول، يادې ټکنالوژۍ له يوې خوا د کورنيو او نړۍوالو اداينو د لېږد لګښتونه راکموي او له بلې خوا هم مهاله اداينو ته زمينه برابروي او په پايله کې د امريکا د اداينو د سيستم يوه د پام وړ نيمګړتيا له منځه وړي. همدارنګه، دا نوې شتمنۍ د پروګرام جوړونې وړتيا لري چې د مشروطه اداينو او د زياتو پيچلو کاريالونو (اپليکيشنونو) لکه

ایسکرو لپاره کارول کېدای شي.

په ورته وخت کې یادو ټکنالوژیو او د دودیزو منځګړو مالي ادارو پر وړاندې د ګواښ څرنګوالي یې تاوده بحثونه رامنځته کړي دي. د بېلګې په توګه، که څه هم د زېرمو فدرالي بورډ په یوه تازه مقاله کې، له یوې خوا د برېښنایي پولي واحدونو د پام وړ ګټې تائیدې کړې دي، او له بلې خوا یې بیا د محرمیت، عملیاتي، سایبري امنیت او مالي ټیکاو د خطرونو په اړه اندېښنه څرګنده کړې ده. په ورته وخت کې، د امریکا د بیه لرونکو پاڼو او اسعارو د تبادلې د کمیسیون مشر ګیري ګینسلر، په دې وروستیو کې په کرپټو بازارونو کې د ستونزو د حل په موخه د قانون پلي کوونکو شمېر دوه برابره کړی دی. د ټېرا (Terra) بلاک چین سلسلې اړوند د متحده ایالاتو پولي واحد ټېرا (UST) تر نوم لاندې د سټیبل کواین چې یو له لویو سټیبل کواینونو څخه دی، وروستي سقوط وښودله چې څنګه د دې سیستمونو ناکامي کولای شي د کرپټو په ټول مالي نظام کې ځنځیري اغېزې رامنځته کړي. حال دا چې ډېری سټیبل کواینونه خپل ارزښت د اسعاري زېرمو له بشپړ ملاتړ څخه ترلاسه کوي، خو د متحده ایالاتو د ټېرا پولي واحد بیا د سټیبل کواینونو په پرتله توپیر لري، ځکه د متحده ایالاتو ټېرا د ارزښت د ټیکاو لپاره د اسعاري زېرمو د ملاتړ پر ځای پر یوه الګوریتم او دویمې کرپټوکرنسۍ، لونا (Luna) تکیه درلوده.

که څه هم وروستي پېښې دا څرګندوي چې د کرپټو کرنسۍ له خطرونو څخه سترګې نه شي پټېدلی، خو دا هم څرګنده ده چې اوسني حالت او سیستم د قناعت وړ حل لاره نه وړاندې کوي. اصلي پوښتنه دا ده چې د ادلینو له یوه ګران بیه، زوړ او تخنیکي سیستم څخه څوک اغېزمنېږي. دا مقاله په کوچنیو او منځنیو کاروبارونو باندې احتمالي اغېزې په ګوته کوي چې د اقتصادي ودې او ټیکاو لپاره د پام وړ پایلې لري.

کوچني کاروبارونه لکه رستورانتونه، نل غځوونکي او کالي وینځونکي زموږ په اقتصاد کې حیاتي ونډه لري. دا کاروبارونه، د امریکا متحده ایالتونو نږدې نیمایي وګړو ته د کار زمینه برابروي چې له ۶۰ میلیونو څخه زیات کاري فرصتونه رامنځته کوي. له ۲۰۰۰ څخه تر ۲۰۱۹ کاله پورې یې ۶۵ سلنه نوې خالصې دندې رامنځته کړې دي چې د امریکا متحده ایالتونو د ټولو صادروونکو شرکتونو ۹۷.۵ سلنه جوړوي او د ثبت شوو صادراتو د ټولیز ارزښت ۳۲ سلنه تشکیلوي. سربېره پر دې، کوچني کاروبارونه د نسلونو ترمنځ د اقتصادي پرمختګ او ټولنیز ګډون یوه مهمه وسیله ده چې ټولو وګړو او بیا په ځانګړې ډول هغو کم نفوذ لرونکو ډلو لکه لږکیو او کډوالو ته چې ډېری وخت له ورته فرصتونو بې برخې پاتې شوي وي، د ټولنیزو پرمختګونو او اقتصادي فرصتونو زمینه برابروي.

همدارنګه، کوچني کاروبارونه د شاپیفای او آمازون په څېر برېښنایي پلېټفورمونو له لارې هڅې کوي، تر څو له خپلو محلي پېرېدونکو څخه پرته نورو پېرېدونکو ته هم لاسرسی ومومي. شاپیفای او آمازون د توکو د وېش هغه کانالونه دي چې د کرونا وبا پر مهال یې د پرچون پلور د کمښت په مخنیوي کې مهم رول درلود.

سربېره پر دې، کوچني کاروبارونه د برېښنایي اسعارو په اړوندو بحثونو کې تر ډېره له پامه غورځول شوي دي. که څه هم پالیسي جوړوونکي، اقتصاد پوهان او دولتي چارواکي د کوچنیو کاروبارونو د پیاوړتیا او ودې اهمیت ته اشاره کوي، خو دا چې دوی څنګه له یو غوره او سیال ادلینیز سیستم څخه ګټه اخیستی شي، نږدې په بشپړ ډول له پامه غورځول شوي ده.

## د کوچنیو کاروبارونو مالي ننګونې

ډېری کوچني کاروبارونه په ډېرو کمو نغدي زېرمو فعالیت کوي. یو عادي کوچنی کاروبار یوازې دومره نغدي پیسې لري چې تر یوې میاشتې کم دوام وکړي. یاد وضعیت د اقتصادي نوسانونو پر وړاندې، د کوچنیو کاروبارونو مالي او اقتصادي خواک تر ډېره کمزوری کوي، د بېلګې په توګه، د ۲۰۰۸ کال مالي کړکیچ او په دې وروستیو کې د کرونا

( کووېډ–۱۹) کړکېچ پر مهال د کوچنیو کاروبارونو سقوط دا مسئله لا پسې روښانه کړه. د کووېډ–۱۹ کړکېچ د کوچنیو کاروبارونو لپاره ډېرې ناوړه پایلې لرلې، آن تر دې چې د یادو کاروبارونو د دوام په موخه حکومت اړ شو تر څو د معاشونو د ملاتړ بېړنی پروګرام پیل کړي.

د یادو ستونزو او نیمګړتیاوو تر شا ګڼ شمېر دلیلونه شته؛ لکه د لویو کاروبارونو او شرکتونو په پرتله کوچني کاروبارونه کمې مالي سرچینې او پورونو ته محدود لاسرسی لري. د پور ورکوونکو په اند، کوچني کاروبارونه د زیات خطر لرونکي دي، څکه چې دوی تل د هغو مقداري او روښانه شمېرو پر وړاندې کولو کې پاتې راځي چې لوی بانکونه یې د پور بېرته ورکولو د توان د ارزونې لپاره اړین ګڼي. ډېری وخت کوچنیو کاروبارونو په ټولنیزو بانکونو تکیه کوله، خو د بانکونو ادغام یا یو ځای کېدا، د کوچنیو کاروبارونو د تمویل یاده سرچینه لا پسې محدوده کړه.

په ادایینو کې ځنډ، د کوچنیو کاروبارونو پر وړاندې یوه لویه ننګونه ده. لوی شرکتونه لکه وال مارټ او پراکټر اینډ ګیمبل عموماً له خپلو عرضه کوونکو سره د 'اوس واخله، پیسې وروسته ورکړه' له میتود څخه کار اخلي چې په دې صورت کې د پیسو ادایینه له ۳۰ څخه تر ۱۲۰ ورځو پورې ځنډېږي. د یادو میتودونو د پلي کولو په صورت کې، لوی شرکتونه او پېرېدونکي له کوچنیو کاروبارونو پور اخلي چې په پایله کې د کوچنیو کاروبارونو د کاري پانګې اړتیاوو کې د پام وړ زیاتوالی او د شته نغدو پیسو زېرمو کې یې د پام وړ کموالی رامنځته کېږي. پرته له شکه، د سروې پایلې ښیي چې نږدې ۷۰ سلنه هغه کوچني کاروبارونه چې په انوایسونو باندې تکیه کوي، د ادایینو د ځنډ له امله د نغدو پیسو د جریان له ستونزو سره لاس او ګرېوان دي.

همدا ډول پورونو ته د لاسرسي اړوند ننګونې او د ادایینو ځنډ کولای شي د کوچنیو کاروبارونو د نغدو پیسو د یوې سالمې زېرمې د ساتلو په برخه کې ستونزه رامنځته، د اقتصادي ټکانونو پر وړاندې زیانمنتیا زیاته او د پانګونې وړتیا محدوده کړي. د ادایینو په برخه کې مخ پر زیاتېدونکې سیالي او نوښت، د کوچنیو کاروبارونو اوږدمهاله پیاوړتیا ښه او د ودې لپاره فرصتونه رامنځته کولای شي.

**ټکني او ګران بیه ادایني څرنګه کوچني کاروبارونه زیانمنوي**

اوس مهال، د امریکا په متحده ایالتونو کې ډېری ادایني د کریډیټ کارتونو له لارې ترسره کېږي چې دا بهیر د کووېډ–۱۹ وبا ناروغۍ پر مهال لا پسې چټک شوی دی. که څه هم د یادې چارې لګښتونه او فیسونه د پېرېدونکو له سترګو پناه دي، خو سوداګر د کارت صادروونکو بانکونو، د کارت شبکو د ارزونې او ادایینو پروسس کولو ادارو ته فیسونه ادا کوي چې کېدای شي دا فیسونه د معاملې د ارزښت له ۳ سلنې څخه لوړ شي او تمه کېږي چې په نږدې راتلونکي کې لا زیات شي.

آنلاین معاملې، په ځانګړې توګه هغه معاملې چې د آنلاین پلیټفارمونو لکه آمازون یا شاپیفای له لارې ترسره کېږي، کېدای شي لا زیات لګښتونه له ځانه سره ولري. سربېره پر دې، د پیسو تر لاسه کول، ښایي څو ورځې وخت ونیسي چې دا چاره د کوچنیو کاروبارونو د کاري پانګې په اړتیاوو کې د زیاتوالي لامل کېږي.

پورتنۍ کړنې، کوچني کاروبارونه له ښکاره زیان سره مخ کوي، څکه چې کوچني کاروبارونه کمه ګټه، محدودې نغدې زېرمې او لوړ تمویلي لګښتونه لري. لوی شرکتونه لکه کوستکو (Costco)د بریښنایي ادایینو د ترسره کولو په صورت کې، د چنې وهلو له لارې فیسونه په پام وړ توګه راکمولای شي، خو کوچني کاروبارونه بیا په دې کچه د چنې وهلو خواک نه لري. اوس مهال، د کارتونو لویې شبکې ډېر لږ بدیلونه لري، په دې معنی چې کوچني کاروبارونه د ګټې په ډېرې کمې سلنې سره فعالیت کوي، اړ دي چې د لوړو بیو له لارې د فیسونو یوه برخه پېرېدونکو ته ولېږدوي چې دا چاره له لویو او غوره مالي

سرچینو لرونکو سیالانو سره د کوچنیو کاروبارونو د سیالي وړتیا راکموي.

د هېوادونو تر منځ د پیسو د لېږد پر مهال، یادې ستونزې لا پسې زیاتیږي، ځکه چې په دې صورت کې فیسونه لوړ او په ادایینو کې ځنډ د پام وړ زیاتوالی مومي. د ۲۰۲۱ کال په دویمه ربعه کې، د امریکا له متحده ایالتونو څخه بل هېواد ته د پیسو د لېږد منځنی لګښت ۵.۴۱ سلنه وو او د سویفټ له لارې ادایینو، له ۱ څخه تر ۵ کاري ورځو وخت نیولو. سربېره پر دې، په فیسونو کې بدلون د تمې وړ دی، ځکه بنایي کاروبارونه په معامله کې د ښکیلو معامله لرونکو بانکونو د شمېر له امله له اضافي لګښتونو سره مخ شي. د ادایینز زنځیر پېچلتیا، نړۍوالې ادایني د درغلی او چل ول لپاره یوه غوره موخه ګرځوي چې د ادایینو لګښتونه لا پسې زیاتوي.

## د بلاک چېن ټکنالوژۍ کارول

د یاد وضعیت او نیمګړتیاوو د بدلون او سمون په موخه، موږ یو پرانیستي او سیالي کوونکي ادایینز سیستم ته اړتیا لرو. د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره، اړینه ده چې د عامه سکتور مهم سیستمونه لکه فېډ نو (FedNow) او د مرکزي بانکونو برېښنایي پولي واحدونه، د کریپټو کرنسي په آزادانه توګه د لاسرسي وړ شبکو په ګډون د خصوصي سکتور له نوښتونو او سیستمونو سره یوځای شي. په طبیعي توګه، د عامه سکتور هڅې او نوښتونه ډېر ټکني او ورو پر مخ ځي او دا جدي خطر شته چې دا به له هغو نوښتونو او سیستمونو ډېر شاته پاتې شي چې په خصوصي سکتورونو او تړلو چاپېریالونو (Walled Gardens) کې په چټکۍ سره رامنځته کېږي او پېرېدونکي او کاروبارونه اړ باسي تر څو تړلي او نا همغږي سیستمونه وکاروي.

خو دا چاره باید په همدې ډول پاتې نه شي. د هم مهاله او کم لګښته ادایینزو سیستمونو پر لور د چټک بدلون او پرمختګ لپاره، عامه سکتور د بلاک چین او کریپټو کرنسي په برخو کې له رامنځته کېدونکو تخنیکي پرمختګونو څخه ګټه اخیستلای شي.

یو پرانیستي ادایینز سیستم سیالي زیاتوي، د معاملو لګښتونه راکموي او هغه بېلابېل خدمتونه سره جلا کوي چې اوس مهال د ټولو برېښنایي معاملو او ادایینو برخه جوړوي، لکه د یوې معاملې بېرته ګرځول، د پیسو د بېرته ادایني اداره کول، منځګړیتوب، د معاملې د خطر ارزونه او داسې نور. په غوره سناریو کې، د برېښنایي بټوو، بانکونو او د ادایینو د دودیزو سیستمونو تر منځ د همغږۍ او ښه اتصال په پایله کې به کوچني کاروبارونه وکولای شي چې پرته له کوم محدودیت څخه له هر ډول پېرېدونکو څخه ادایني ترلاسه کړي. همداراز، د منځګړو ادارو او سیستمونو د شمېر په راکمولو سره، د بلاک چین له لارې د پیسو مستقیم لېږد د کورنیو او بهرنیو ادایینو لپاره ګټور دی.

که چېرې په ادایینز سیستم کې یاد تکامل او بدلون ریالیستوب ومومي، نو له یوې خوا به د کوچنیو کاروبارونو د پام وړ لګښتونه را کم شي او له بلې خوا به یاد کاروبارونه پیسو ته چټک لاسرسی ولري، په پایله کې به د کوچنیو کاروبارونو نغدینګي، د پیسو نغدي جریان او زېرمې پیاوړې شي او هغوی ته به له منفي اقتصادي ټکانونو سره د مبارزې وړتیا ورکړي، تر څو خپل مالي او اقتصادي ټیکاو وساتي.

د پیسو د لېږد رالېږد لپاره د یوه پرانیستي او یو له بل سره د تبلیدو وړ ادایینز سیستم په رامنځته کولو سره به عامه سکتور وکولای شي چې په ادایینز سیستم کې سیالي ته لاره هواره کړي او کوچنیو کاروبارونو ته به د پرمختګ لپاره اړین اختیارونه او فرصتونه برابر کړي.

**لیکوال: شای برنستون او کرسټین کاتالیني**

**ژباړونکی: صفي احمد ناصري**

**د افغانستان بانک د ژباړې د بورډ غړی**

services to meet their daily financial needs, highlighting the role of digital financial services in enhancing convenience and promoting financial inclusion.

**A Step Toward Financial Inclusion and Economic Empowerment**

The Central Bank's initiatives are not merely about expanding financial services—they are a concerted effort to foster financial inclusion, which is crucial for the economic empowerment of individuals and communities across Afghanistan. The development of digital payments, mobile banking, and microfinance services offers new opportunities for individuals who were previously excluded from formal financial systems.

These services are providing people with greater access to financial products, improving their quality of life and supporting Afghanistan's long-term economic development. As a result, there is a noticeable increase in financial transparency, accessibility, and trust in the banking system, which will contribute to the sustainable development of Afghanistan's economy.

**A Vision for the Future: Building Trust and Resilience**

The Central Bank of Afghanistan's ongoing efforts are not just about reforming the financial sector—they represent a broader vision for the future of Afghanistan's economy. By establishing a financial system that is based on Islamic principles, the bank is creating a foundation for long-term stability, transparency, and economic resilience.

The collaboration between the public, private sectors, and local communities is vital for ensuring that Afghanistan's financial system remains robust, trustworthy, and responsive to the needs of its citizens. These initiatives serve as a model for how financial institutions can support economic growth and stability while promoting social equity and inclusivity.

Through these continued efforts, the Central Bank of Afghanistan is helping to lay the groundwork for a strong, sustainable, and transparent economic future, one that will benefit all segments of society and contribute to the country's development for generations to come.

**Hasibullah Noori**
**Spokesperson Da Afghanistan Bank**

---

**Source:**

Da Afghanistan Bank

Dab.gov.af

The local officials expressed strong support for the Central Bank's initiatives, particularly the expansion of the Islamic banking system, highlighting its potential to positively impact Afghanistan's economic stability. The meeting underscored the importance of modernizing the banking system to increase transparency and ensure the resilience of the Afghani within the national economic framework.

In response to these discussions, the Central Bank outlined new cooperative efforts aimed at expanding financial services, enhancing regional economies, and advancing the development of Islamic banking systems in Afghanistan. These initiatives are designed to not only strengthen Afghanistan's financial system but also improve the broader socio-economic landscape through better access to financial services.

**Kunduz Province: Turning Vision into Reality**

The second gathering of the Central Bank's delegation took them to Kunduz province, where a public gathering was held with a diverse group of attendees, including the Deputy Governor, tribal leaders, religious scholars, business figures, and financial institutions' representatives. The meeting focused on critical issues such as improving financial literacy, enhancing public participation, and broadening access to financial services—key factors for fostering long-term economic stability.

One of the main topics of discussion was the role of Islamic banking, which was presented as more than just a theoretical concept but as a viable and practical strategy for restoring economic stability and rebuilding public trust in Afghanistan's financial system. It was emphasized that the principles of Islamic banking align with the values of fairness and transparency, and that its expansion would benefit not only individual account holders but also the broader Afghan economy.

Moreover, it was noted that funds previously withdrawn under the guise of insurance from commercial banks had been refunded, underscoring the commitment to upholding Islamic banking principles.

**Promoting Financial Literacy through Seminars and Exhibitions**

Throughout both provinces, the Central Bank organized a series of seminars and exhibitions to provide detailed insights into the functioning of banking systems, electronic payments, and microfinance. These efforts aimed to raise public awareness and increase financial literacy, which is critical for ensuring that individuals are well-equipped to manage their financial resources effectively.

Exhibitions showcased a range of banking services, including mobile payments, online banking, and microfinance options. These services were presented as accessible solutions for individuals seeking to improve their financial well-being. The exhibits allowed participants to better understand how to use these

# Strengthening Regional Economies: A Strategic Approach by the Central Bank of Afghanistan

At a pivotal moment in Afghanistan's economic recovery, the visits to Balkh and Kunduz provinces by Mr. Sediqullah Khalid, the First Deputy Governor of the Central Bank of Afghanistan, stand as a testament to the bank's commitment to promoting sustainable economic growth and financial stability. These visits were not just symbolic but marked the beginning of a new phase in the country's financial transformation, with a focus on reinforcing regional economies, advancing Islamic banking, expanding digital banking, fostering microfinance, and enhancing financial literacy among the public.

**Balkh Province: Laying the Groundwork for Economic Collaboration**

The Central Bank's delegation commenced its visit to Balkh, a key economic hub in northern Afghanistan, where an extensive meeting was held with local authorities, private sector representatives, religious scholars, and officials from financial institutions. The discussions centered on critical issues such as the stability of the Afghani currency, the expansion of Islamic banking, access to financial services, and the digitalization of the banking system.



# ملي پیسي، د ملی یووالی سمبول او
# زموږ د هېواد د ملي اقتدار نښه ده



بانک The Bank

April 2025

شماره ۲۱۴- ذوالقعدة الحرام - ثور ۱۴۰۴


# واحد پولی ما افغانی است و باید در همه قلمرو کشور از آن استفاده صورت گیرد.

